# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ دویمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۳مه | ۷۳۸مه ګڼه


## کتاب


۴ مخ

### میرویس خان نیکه




د کتاب لیکوال وایي: «د هېواد د وياړمن، رښتیني ملي مشر، د توري او تدبیر اتل، میرویس خان نیکه پر ژوند او مبارزو د تاریخي ناول لیکل ماته یو خوب و چې د لوی الله په ځانګړې لورېینه زما دغه ارمان تر سره شو او دغه تاریخي ناول د درنو لوستونکیو په لاس کې دی.»

## خپلواک: د شورابک برېښنا بند چارې بشپړې شوي او ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره وايي، چې د بدخشان د شورابک برېښنا بند چارې بشپړې شوي او ډېر ژر به ګټې اخېستنې ته وسپارل شي.

د دې ادارې ویاند نظام الدین خپلواک وايي چې دا بند د جرمنې د ۴۵ میلیونه یورو په لګښت جوړ شوی، چې په دریو توربینونو سره ۷.۵ مېګا واټه برېښنا تولیدوي او د فیض اباد ښار ۲۵ زره کورنیو ته برېښنا رسوي.

نومورې زیاتوي چې د دغه بند چارې د پنځو کلونو په موده کې بشپړې شوي دي. افغان حکومت تر دې وړاندې د کمال خان په ګډون یو شمېر نور بندونه هم ګټې اخیستنې ته سپارلي دي.

د یادونې ده چې افغانستان د برېښنا تولیدولو او اوبو زېرمه کولو لپاره د بندونو جوړولو مناسب طبیعي شرایط لري، خو د اوبو د نه مدیریت له امله د دغه هېواد نږدې ۷۰ سلنه اوبه ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي.

# پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش او ډېرېدونکې اندېښنې؛

## نظامي کارپوهان: پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش به هېواد د یوه بل ناورین پر لور بوځي



۳

### د ۳۵۰ زره ځواکونو پر ځای ولې پر ملېشو تمرکز کېږي!؟

۲ مخ

### ایا جګړه به طالبان واک ته ورسوي؟

۲ مخ

### موج تازه مهاجرت افغان‌ها به ترکیه؛ رویاهایی که نقش برآب می‌شوند

۳ مخ

## ملګري ملتونه: طالبان دې د افغان ملکیانو د خوندیتوب په اړه جدي اقدامات وکړي

ملګري ملتونه وايي، له طالبانو یې غوښتي چې په افغانستان کې د ملکیانو د خوندیتوب لپاره دې ځانګړي اقدامات ترسره کړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ دفتر یا یوناما د یو ټویټ په خپرولو سره ویلي، چې د دغه بنسټ استازو په دوحې کې له طالبانو سره لیدلي او د جګړې په ډګر کې پر افغان ملکیانو د تېل شویو کړاوونو په اړه یې ورسره خبرې کړې دي.

د یوناما په ټویټ کې راغلي: «د یوناما د بشري حقونو استازو له طالبانو غوښتي، چې د ملکیانو خوندیتوب او د ډار نه خپرولو په برخې کې ژمن پاتې شي.» دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په بشري حقونو کې د ملګرو ملتونو کمېشنرۍ مشرې مېشل بشلت په یو بیان کې د افغان ملکیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ډېرېدو په اړه اندېښنه ښکاره کړې ده.

بشلت ویلي، چې په تېرو شپږو میاشتو کې چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې خبرې پیل شوي، د همدې مودې په پرتله د یو کال مخکې ملکي تلفات ۱۴ سلنه لوړ وو.

نومورې زیاته کړې، په داسې حال کې چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه په وتلو دي، د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې له ګواښ سره مخ دي او په ځانګړې توګه یې د خبریالانو، ښځو، اقلیتونو او د بشري حقونو ملاتړ کوونکو ته یې خطر پېښ کړی دی.

## پنټاګون: د طالبانو بریدونو ته په کتو، ښایي له افغانستانه مو د ځواکونو د ایستلو بهیر ورو شي



۲ مخ

## رسانه‌ها: مقامات هندی برای اولین‌بار با رهبران طالبان در دوحه دیدار کرده‌اند



رسانه‌های هندی به نقل از مطلق بن ماجدالقحطانی، نماینده ویژه وزیر خارجه قطر در امور حل منازعات، گزارش داده‌اند که برای نخستین بار مقامات هندی با رهبران طالبان در دوحه دیدار کرده‌اند.

پیش‌تر هندوستان تایمز گزارش داده بود که هند با رهبران طالبان تماس برقرار کرده است، اما دیدار مستقیمی بین آن‌ها تاکنون صورت نگرفته است. به گزارش هندوستان تایمز، مطلق بن ماجد القحطانی گفته است که مقام‌های هندی با طالبان دیدار و گفت‌وگو کرده‌اند.

نماینده ویژه وزیر خارجه قطر در امور حل منازعات افزوده است که هند با طالبان در حال تعامل است، زیرا طالبان بخشی از دولت آینده خواهند بود. مطلق القحطانی پرده از روی دیدار مقام‌های هندی با رهبران طالبان در نشست مجازی که از سوی مرکز عرب در واشنگتن با محوریت مساله صلح افغانستان برگزار شده بود، برداشته است. جزییات این دیدار تاکنون همه‌گانی نشده است.

هند طالبان را پیش از این یک گروه تروریستی می‌خواند و آن را نماینده پاکستان عنوان می‌کرد. سال گذشته زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا در امور صلح افغانستان، پیشنهاد کرده بود که هند نگرانی‌های خود را مستقیماً با طالبان مطرح کند. گفتنی است که جی شنکر، وزیر خارجه هند در بیست‌وپنجم جوزا، در دوحه پایتخت قطر بود و دیداری را با زلمی خلیل‌زاد نیز انجام داد.


کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د ۳۵۰ زره ځواکونو پر ځای ولې پر ملېشو تمرکز کېږي!؟

د افغانستان لـه ګڼـو شـمالي ولایتونـو څخه رپوټونـه دي چـې حکومت پـر پخوانیـو قوماندانانو وسلې وېشلي او هغـوی له طالبانو سره د جګړو لپاره وسله وال برابـر کـړي دي. د ولسي جرګـې ځینـې غـړي، سیمه‌ییز سیاسـتوال، د جمعیت، وحدت او جنبش ګوندونـو غـړي پـه دغـو کسـانو کـې شـامل دي. دوی تـه دنـده ورکـړل شـوې د طالبانـو پـر وړانـدې ودرېږي، پرې نـه ږدي چـې هغـوی لا زیـات پرمختـګ وکـړي او یـا هـم دوی باید نیـول شـوې سـیمې بېرتـه لـه طالبانو ونیسي. چاروا‌کـي وايـي دا عـام خلـک دي چـې اوږه پـر اوږه لـه امنیتـي ځواکونـو سره د طالبانـو پـر ضد مبـارزه کـوي، خو واقعیـت دا دی چې دا د پخوانیـو جنګـي تنظیمونـو غـړي دي چې پخوا یـې هـم پـه کورنیو جګـړو کـې فعاله ونـډه لرله.

پوښـتنه دا ده چـې ایـا دا ملېشـې بـه د طالبانو مخـه ونیسي؟
طالبـان ادعـا کـوي چـې پـه تېـره یـوه نیمـه میاشـت کـې یې ۸۳ ولسـوالۍ نیولـې دي. که څـه هم حکومت دا شـمېرې ردوي، خو واقعیت دا دی چـې طالبانـو لسـګونه ولسـوالۍ نیولي دي. پـه دې وروسـتیو کـې خـو طالبـان نـږدې هـره ورځ د څـو ولسـوالیو د نیولـو ادعـا کـوي. کـه د طالبانـو شـمېرې مبالغـه هـم وګڼـو، بیـا هـم ښـکاره ده چـې طالبانـو پـه تېـره یـوه نیمه میاشـت کـې بـې سـارې پرمختـګ کـړی او دې چـارې لـه ډېـرو کسـانو سره سـختې اندېښـې پیـدا کـړې دي.
حکومت وایـي چـې طالبانـو مهـم پرمختـګ نه دی کـړی او دوی بـه لـه لاسـه وتلـې سـیمې بېرتـه لـه طالبانو نیسـي. حکومت وایـي، د دې لپـاره یـو پـلان لـري چـې ژر به عملـي شي، خو په عملي ډګر کې ښـکاري چـې حکومت د دې پـر ځـای چـې پر رسـمي ځواکونو تمرکـز وکړي، تمویـل، تجهیـز او پـوره ملاتـړ یـې وکـړي، پـر ملېشـو تکیـه کـوي او د هغـوی پـر مټ غـواړي چـې د طالبانو د پرمختګ مخه ډپ کړي. اوس حکومـت پـه رسـمي ډول خلکـو تـه وایـي چـې وسـلې واخلـئ او د امنیتـي ځواکونـو تـر څنګ ودرېږئ، لـه همـدې امله په ځینـو ولایتونو کې په شـدت سره ډلې ډلې خلک وسـله وال شـول او دا لـړۍ روانـه ده.
پـر ملېشـو تمرکز لـه خلکـو سره نوې اندېښـنې پیـدا کـړې دي. دوی بـاور لري چـې دا چاره به پـر رسـمي او ملي امنیتي ځواکونـو د خلکو باور کـم کـړي، ځکه چـې د ملېشـو جـوړول دا معنا لـري چـې ملـي ځواکونـه د طالبانـو پـر وړاندې د درېـدو تـوان نـه لري. لـه بله اړخه دا ملېشـې تـر ډېـره د پخوانیـو جنګـي تنظیمونـو دي چې لـه وړاندې پـه جنګـي جرمونـو او ناقانونه کړنې تورنـې دي. د ملېشـو جـوړول، یـوه نـاکاره او نـاوړه تجربـه ده چـې بدې پایلې یـې لرلې دي. لـه بلـه اړخـه دا ملېشـې پـه قومـي انګېـزو هـم جوړېږي چې تـر ګټـې یـې زیـان ډېـر دی. له همـدې املـه خلـک د دې ملېشـو مخالف دي.
حکومـت مشـران بایـد یـوازې پـه خبـرو کـې نه، بلکـې پـه عمل کې هـم لاروړکي نـه شي. دوی بایـد ملـي امنیتـي ځواکونـو ته ارزښـت ورکړي، بـاور پـرې وکـړي، ملاتـړ او سـالمه رهبـري یـې وکـړي او کـه ښوک غـواړي چـې د دې ځواکونو ملاتـړ وکـړي، بایـد د دغـو ځواکونـو پـه چوکاټ کـې دا کار وکـړي. لـه دې پرتـه کـه ۳۵۰ زره امنیتـي ځواکونـه د طالبانـو پـه مخنیـوي کـې اغېزنـاک نـه وي، نـو څـو منفـورې او د جنګـي سـابقې لرونکـي ملېشـې بـه څـه ډول د طالبانو مخـه ونیسـي!؟ پکار ده چـې حکومت معقولې پرېکـړې وکـړي او پـه وارخطایـۍ کـې داسـې ګامونـه وانـه خلـي چـې بیـا بـه یـې وروسـته جبرانـول ناممکـن وي.

# ایا جګړه به طالبان واک ته ورسوي؟

لیکنه: **هیواد ځاځی**

لـه کلـه نـه چـې طالبانـو لـه امریکایانـو سره د دوحـې تـړون لاسـلیک او د دې تـړون لـه مخـې د طالبانـو پـه زرګونـه بندیـان خوشـې شـول، پـه طالـب چارواکو د سـفر محدودیتونه لرې شـول او تـر څنـګ یـې امریـکا او ناټـو ژمنـه وکـړه چـې نـور بـه د افغـان ځواکونـو هوایـي او ځمکنـۍ ملاتـړ نـه کـوي، طالبانـو ځانونـه د روانـې شـل کلنـې جګـړې ګټونکـي او فاتحیـن وبلـل، د دوحـې لاسـلیک شـوی تـړون یـې د امریـکا د ماتـې او د ځـان د بریـا سـند یـاد کـړ، دوی پـه لومړیـو کـې د جګـړې د کمښـت ژمنـه وکـړه؛ خـو پورتـه یـاد شـویو فکټورونـو تـه پـه کتـو چـې طالـب سـیاسي مشرانـو خپلـو نظامـي مشرانـو تـه د بریا تضمین حسـاب کـړ، نو جګړه د اکـثرو طالب نظامـي قومندانانو ټاکنه شـوه، دوی بـاور تر لاسـه کړ چـې جګړه بـه لـه افغانسـتان څخـه د امریکایانو تر وتلـو وروسـته افغـان حکومـت د دوی پر وړانـدې راوپرځـوي، اوس چـې جګړه د مختلفـو دلایلـو چـې پـه هغـه کـې هم د حکومـت او هـم د طالبانو د جنګ طلبو کړیـو رول غوښـن دی، تـر بـل هر وخت ګرمـه او پـه ځینـو ولایاتـو کـې د ډېـرو ولسـوالیو واګـې هـم د طالبانـو پـه لاس کـې ده او دا لـړۍ لا روانـه ده. اوس دا پوښـتنه را پورتـه کېږي چې ایا طالبان بـه د جګـړې له لارې په ټول افغانسـتان واکمـن شي؟
راځـئ لومړی دا سره جلا کـړو چـې ایـا روانـې جګـړې طالبـان پـه سیاسي میـز د امتیـاز او نـرۍ ته د خپـل قوت د څرګندولـو لپـاره پیـاوړي کـړي او کنـه؟

ایـا د دوی وروسـتی انتخـاب د جګـړې لـه لارې په افغانسـتان واکمنېدل دي؟ کـه چیـرې د جګـړې شـدت د لومـړۍ پوښـتنې د ځـواب لپاره وي، نو طالبان بـه وکولـی شي چـې د میـز پـر سر ډېـر څـه د جګـړې لـه همـدې شـدت څخـه تـر لاسـه کـړي، ځکـه دوی پـه ډېـرو ولسـوالیو تلسـط پیـدا کـړ او پـه ډېریـو لویـو لارو کنټـرول لري. دوی بـه وکولی شي چـې پـر حکومـت د فشـار لـه لارې چـې د طالبانـو تر تسـلط لاندې راشي؟ او د دوی د سـختو قوانینـو تـر سـخت دریځـۍ لانـدې بـه هغه سیاسي اقشـار چـې پـه تیرو شـلو کالـو کې یې پـه پوره ازادۍ خپـل فعالیت کـړی، خپل شـتون ومنـي؟ ایـا دوی بـه د خپلـو پخوانیـو دښـمنانو پـر وړانـدې چـې اوس لـه پخوا پـه ملي او نظامـي لحـاظ خـورا پیاوړي شـوي، بریـالي شي او یـا بـه هغـوی د طالبانـو حاکمیت ومني؟ او د خپلـې خوښـې حکومـت د رامنځته کیـدو پـه هڅـه کـې واوسي؛ ځکـه دوی نـه شي کولـی چـې پـه یـوازې ځـان حکومـت جـوړ کـړي، تیـر تاریـخ هـم ښـودلې چـې د ډلـو او ګروپـي حکومتونو بقـا نـه ده کـړې، کـه چیرې طالبـان په کابـل هـم ولکـه ټینګه کـړي، بیـا هم اړ دي چـې له دوو یـوه لاره غوره کړي چې یـوه د جګـړې او بله هـم د خپلو پخوانیو هغـو جنګـي ډلـو او په اوسـني حکومت



یـا خپلې غوښـتنې ټولـې ومنـي او یا به یـې داسـې معاملـې تـه اړ بـاسي چـې پـه واک کـې بـه د طالبانـو حضـور ډېـر زیان وي. اوس راځـو د دویمې پوښـتنې ځـواب تـه.
کـه چیرې طالبـان پـه دې فکـر جګړه کـوي چـې دوی بـه د جنـګ لـه لارې پـه ټـول افغانسـتان واکمنیږي، نو دوی بایـد د افغانسـتان اوسـنی وضعیـت ډېر پـه دقـت وڅېـړي، هغه پـه دې مانا چې ایا اوسـنی افغانسـتان دې ته چمتو دی ایـا سـیمه ییز او ګاونـډي هیوادونه به د طالبانـو بشـپړ حاکمیـت په افغانسـتان کـې پـه رسـمیت وپیـژني؟ او تـر ټولـو مهمـه دا چـې نړیـوال پـه ځانګـړې توګـه امریـکا، ملګـري ملتونـه او ناټـو به دوی پـه افغانسـتان بشـپړ واکمنېـدو ته پربـږدي؟
دا او دېتـه ورتـه هغـه پوښـتنې دي چې دا جوتـوي چـې طالبـان نـه بایـد خپله تیـره تاریخـي تېروتنه تکرار کـړي، دوی نـه بایـد پـه ټـول افغانسـتان د واکمنېدو کـې لـه پـوره ونـډه والـو سره د سـولې او تفاهـم لار ده، چـې یو یـې دایمي جنګ تـه اړ کـوي او بلـه یـې دایمـي ثبات تـه رسـولی شي. نـو بنـاً غوښـتنه دا ده چې د طالبانـو پـه ګـډون ټول اړخونه سـولې تـه لومړیتـوب ورکـړي او خپلـې ټولـې شـخصي او ملـي ګټـې پـه سـوله کـې تضمیـن کـړي، ځکـه هیـڅ لـوری نـه یو بـل د تـل لپـاره حذفولـی شي او نـه یـو لـوری د تـل لپـاره پـه قـدرت کـې پاتـې کیدلـی شي.

# پنټاګون: د طالبانو بریدونو ته په کتو، ښايي له افغانستانه مو د ځواکونو د ایستلو بهیر ورو شي



د امریـکا د دفـاع وزارت یـا پنټاګـون وایـي چـې د افغـان ځواکونو پر مرکزونو د طالبانـو بریدونـو تـه پـه کتـو، ښـایي لـه دغـه هېـواده د امریکایـي سرتېـرو د ایسـتلو بهیـر ورو شي. د پنټاګـون ویانـد جـان کربـي ویـلي، چـې د طالبانـو وروسـتیو بریدونـو تـه پـه کتـو، د امریـکا دفـاع وزیـر لویډ اسـټین او د امریـکا مرکـزي قومندانـۍ هـره ورځ د افغانسـتان امنیتـي وضعیـت او لـه دغه هېـواد څخـه د امریکایـي سرتېـرو د وتلو بهیـر ارزوي.
د هغـه په وینا، د امریـکا دفاع وزیر لویډ اسـټین ویـلي چې لـه افغانسـتان څخه د امریکایـي ځواکونـو وتـل د سـولې لـه راتـګ سره تـړلي، خو په عیـن حال کې پـه شرایطـو پورې هـم اړه لـري. کربي د مطبوعاتي کنفرانـس پرمهال ویلي چې له افغانسـتان څخه د ټـاکلي مهالوېش لـه مخـې د امریکایـي سرتېـرو د وتلـو پرېکـړه پـر ځـای ده، خو زیاتـوي چې د شرایطـو تغیـر پـر یـاد بهیـر اغېـز کولـی شي.
د پنټاګـون د ویانـد پـه وینـا، کـه څـه هـم لـه افغانسـتان څخـه د سپټمبر تـر ۱۱مـې د امریکایـي سرتېـرو د ایسـتلو پـه اړه د ولسـمشر جـو بایـډن د اداري پرېکـړه پـر ځـای ده، خـو پـه وینـا یـې، د افغانسـتان شرایـط هـم پـه نظر کـې نیـول کېـږي. د هغه پـه خبـره: «پـه هغـو مـواردو کـې چـې د افغانسـتان دولـت ورتـه اړتیـا لري، لکـه ملاتـړ، پـه نظر کـې نیـول کېـږي.»
کـربي ویـلي: «کـه څـه هـم د وتلـو لپاره یـو مهالوېـش جـوړ شـوی، خو مـوږ ګورو چـې ښـایي دغـه مهالوېـش شرایطـو ته پـه کتو بـدل شي.»
دا پـه داسـې حـال کې ده چـې طالبانو پـه دې وروسـتیو کـې پـه کندهـار، روزګان، هلمنـد، زابـل، وردګ، غـزني، فاریـاب، بلـخ، بغـلان، سـمنګان، تخار، کنـدز، لوګـر، جوزجـان، پکتیـا او ځینـو نـورو ولایتونـو کـې د بریدونو پـه زیاتېدو سره د ګـڼ شـمېر ولسـوالیو د نیولـو ادعـاوې کـړي دي.
د افغـان حکومـت چارواکو هـم له ځینو ولسـوالیو څخـه د تکتیکـي شـاتګ خبر تاییـد کـړی او د ځینو ولسـوالیو د بېرته نیولـو خبـر یـې هـم ورکـړی دی. لـه افغانسـتان څخـه د امریکایـي سرتېـرو د وتلـو بهیـر د مـې میاشـتې پـر لومړۍ نېټـه پیـل شـوی چـې ټـاکل شـوې د روان کال د سـپټمبر میاشـتې تـر ۱۱مـې نېټـې بشـپړ شي.

# موج تازه مهاجرت افغان‌ها به ترکیه؛ رویاهایی که نقش بر آب می‌شوند

**ندا کارگر؛** خبرنگار در ترکیه



همزمان با بدتر شدن وضعیت امنیتی در افغانستان موج تازه‌ای از مهاجرت غیرقانونی به ترکیه آغاز شده است. هرچند آمار دقیقی از شمار این مهاجران در دست نیست، اما گفته می‌شود در ماه‌های اخیر صدها تن از شهروندان افغانستان با عبور از مرزهای ترکیه به گونه غیرقانونی وارد این کشور شده‌اند. این افراد با پشت سر گذاشتن خطرات بی‌شمار و ساعت‌ها پیاده‌رویی در راه‌های دشوارگذار وارد خاک ترکیه می‌شوند.

رحیم الله بیگی، یکی از کسانی است که چند ماه پیش و در پی بدتر شدن وضعیت امنیتی در ولایت قندوز در شمال- شرق افغانستان به گونه قاچاقی وارد ترکیه شده است.

او در صحبت با من به سختی‌هایی اشاره کرد که در جریان یک ماه سفرش از افغانستان تا ترکیه متحمل شده است، سختی‌های که برای او مانند کابوس است و هنوز تعجب می‌کند که چگونه توانسته زنده و سالم به ترکیه برسد. رحیم الله بیگی می‌گوید: «پس از بدتر شدن وضعیت امنیتی در منطقه ما با شماری از مردان خانواده راه سفر را در پیش گرفتیم. از افغانستان وارد خاک پاکستان شدیم. آنجا گیر مردان مسلح افتادیم که وابسته به گروه های تندرو اسلامی بودند. این افراد که در مناطق قبایلی پاکستان حضور گسترده دارند ما را وادار می‌کردند آیات قرآن را بخوانیم، اگر کسی این آیات را به درستی بلد نبود با سختی مورد لت و کوب و شکنجه قرار می‌گرفت. بعد از همه پول گرفتند و پس از ده روز همه را رها کردند.»

برنامه‌ریزی‌ها برای خروج سربازان خارجی از افغانستان و سقوط پیهم چندین منطقه به دست طالبان در هفته‌های اخیر نگرانی‌ها از احتمال بدتر شدن وضعیت امنیتی در ماه‌های آینده در این کشور را بیشتر ساخته است. براساس آمارهایی که از سوی سازمان ملل متحد منتشر شده تنها در سه ماه اول سال جاری میلادی نزدیک به بیست هزار غیرنظامی قربانی خشونت‌ها در افغانستان شده‌اند.

در کنار کشورهای همسایه مثل ایران و پاکستان، ترکیه هم از مقاصد اصلی برای پناهجویان افغان به شمار می‌آید. اما سفر از افغانستان تا ترکیه به طور غیرقانونی کار ساده‌ای نیست. رحیم الله بیگی می‌گوید پس از رهایی از دست گروه‌های تندرو در خاک پاکستان، وارد خاک ایران شده و از آنجا با ده‌ها تن دیگر و به کمک قاچاقچیان انسان به سمت ترکیه حرکت کردند. «هجده ساعت در میان دشت‌ها و کوه‌ها پیاده‌رویی کردیم. وقتی وارد خاک ترکیه می‌شدیم، تقریباً ۲۶۰ نفر بودیم ولی فقط ۴۰ نفر موفق شدند، وارد خاک ترکیه شوند دیگران همه به دست نیروهای مرزی ترکیه بازداشت و دوباره به ایران بازگردانده شدند. نیروهای مرزی ایران معمولاً حاضر به پذیرفتن دوباره این افراد نیستند و نیروهای مرزی ترکیه نیز آن‌ها را قبول ندارند. دسته‌های بزرگ پناهجویان که از سوی ترکیه بازگردانده شده‌اند، روزها در منطقه وسیعی میان دو کشور سرگردان می‌مانند. در نتیجه شماری از آنها از سوی دزدان و گروه‌های آدم‌ربا ربوده می‌شوند و این گروه‌ها در بدل رهایی آنها از خانواده‌های شان پول هنگفت می‌خواهند.»

**دشواری‌های زندگی در ترکیه**

رحیم الله بیگی که در حال حاضر به گونه غیرقانونی در ترکیه زندگی می‌کند، در یک مزرعه مشغول نگهداری از گاوهاست. او پس از ماه‌ها کار کردن در این مزرعه هنوز موفق به دریافت دستمزدش از سوی مالک مزرعه نشده است. رحیم الله از ترس این که مبادا از سوی پلیس بازداشت و به افغانستان بازگردانده شود، نمی‌تواند برای دریافت دستمزدش از پلیس خواهان کمک شود.

زندگی برای پناهجویان در ترکیه دشواری‌های خودش را دارد. آنانی که در آرزوی رسیدن به زندگی بهتر و با پشت سر گذشتاندن خطرات بزرگ موفق می‌شوند وارد خاک ترکیه شوند با سختی‌های تازه‌ای روبرو می‌شوند. دولت ترکیه از سال‌ها به اینسو با اعمال قوانین سختگیرانه در تلاش جلوگیری از ورود هزاران پناهجو به این کشور است که از راه‌های غیرقانونی وارد ترکیه می‌شوند. در کنار خانواده‌ها، صدها تن از مردان جوان نیز به تنهایی در ترکیه زندگی می‌کنند. شماری از این افراد برای پیدا کردن کار به اینجا آمده‌اند و شمار دیگر نیز از ناامنی‌ها یا از دست گروه‌های مسلح که در تلاش سربازگیری از میان مردان جوان در مناطق شان بوده‌اند راه ترکیه را در پیش گرفته‌اند.

مردانی که به تنهایی از افغانستان وارد ترکیه می‌شوند معمولاً از سوی دولت ترکیه ثبت نمی‌شوند. بخشی از این افراد از سوی نیروهای امنیتی ترکیه بازداشت و به افغانستان فرستاده می‌شوند، بخشی دیگر آنها بدون داشتن کارت شناسایی در این کشور به زندگی ادامه میدهند و در نبود کارت شناسایی حتی قادر نیستند از خدمات پزشکی دولتی مستفید شوند. حفیظ الله یزدان‌پرست، دیگر پناهجوی افغان حدود پنج سال پیش از ولایت بغلان در شمال- شرق افغانستان به ترکیه آمده است. او می‌گوید طالبان در منطقه آنها از میان جوانان روستا سربازگیری می‌کردند و پدر پیرش از ترس این که مبادا تنها پسرش از سوی طالبان به جنگ برده شود، او را به ترکیه فرستادند. حفیظ‌الله می‌گوید پدرش از دوستان و آشنایان قرض گرفته تا بتواند پول قاچاقچی را بپردازد. آقای یزدان‌پرست در گفتگوی تلفنی به من گفت: «وقتی وارد ترکیه شدم فکر می‌کردم سختی‌ها به پایان رسیده، ولی دولت ترکیه مرا ثبت نکرد و گفت چون مرد مجرد استی به تو کارت پناهجویی نمی‌دهیم. حالا من در بی‌سرنوشتی کامل در اینجا زندگی می کنم.»

ترکیه در حال حاضر میزبان بیش از چهار میلیون مهاجر از کشورهای مختلف است. سازمان‌های دفاع از حقوق مهاجران در ترکیه می‌گویند در حال حاضر رد شدن بیش از نود درصد درخواست‌های پناهندگی از سوی اداره مهاجرت ترکیه و غیرفعال بودن بیمه‌های درمانی از مشکلات اصلی برای پناهجویان در ترکیه است.

افرادی که درخواست‌شان از سوی اداره مهاجرت ترکیه رد شده، حق دسترسی به خدمات دولتی شامل درمان و آموزش را ندارند. این افراد حتی در صورت داشتن بیماری‌های جدی نمی‌توانند از خدمات درمانی مستفید شوند، زیرا پس از رد شدن از سوی اداره مهاجرت ترکیه، کارت‌های مهاجرت آنان باطل می‌شود. فقر، بیکاری و آینده‌ای نامعلوم از دشواری‌های اصلی دیگر برای بسیاری از مهاجران در ترکیه به شمار می‌آید.

دشواری‌های زندگی در ترکیه شماری از پناهجویان را وادار می‌کند که به خطر دیگری تن دهند و با گذشتن از دریای اژه که تا حالا جان ده‌ها تن را گرفته است خود را به جزایر یونان برسانند؛ کشوری که بارها از سوی نهادهای دفاع از حقوق بشر به بدرفتاری و اخراج اجباری پناهجویان متهم شده است.

براساس گزارش‌ها، از آغاز امسال حدود سه هزار تن که بخش عمده آن را شهروندان افغانستان تشکیل میدهند، توانسته‌اند خود را از ترکیه به یونان برسانند.

# پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش او ډېرېدونکې اندېښنې؛

## نظامي کارپوهان: پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش به هېواد د یوه بل ناورین پر لور بوځي



د جګړو له شدت او د ولسواليو له پرله پسې سقوط سره جوخت، ملي دفاع وزارت وايي چې په لسو ولايتونو کې يې د طالبانو په ضد د جګړې په موخه زرګونو کسانو ته وسلې ورکړې دي. د ياد وزارت مرستيال وياند فواد امان وايي چې دا وسلې يې د ولسي پاڅونوالو تر نامه لاندې په تخار، بغلان، جوزجان، سرپل، فارياب، کندز، بلخ، پروان، کندهار، کاپيسا او بادغيس ولايتونو کې پر زرګونو کسانو وېشلې ترڅو د طالبانو پر ضد په روانه جګړه کې برخه واخلي.

که څه هم فواد امان د دغو ولسي پاڅونوالو کره شمېر نه ښيي، خو زياتوي چې د دغو کسانو شمېر زرګونو تنو ته رسيږي. د نوموړي په خبره: «له شک پرته له افغان ځواکونو څخه د خلکو ملاتړ او د هغوی ترڅنګ درېدل ډېر ګټور دي، د وضعيت په تغير او ښه کېدو او همدارنګه د تروريستي ډلو په ماتولو کې به ګټور وي.»

دا په داسې حال ده چې تازه د ملي دفاع وزارت سرپرست بسم الله محمدي هم په خپل پيغام کې له خلکو څخه وغوښتل ترڅو په خپلو سيمو کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو ترڅنګ ودرېږي او په خبره يې، دفاع وزارت چمتو دی چې ورته لازم امکانات ورکړي.

په ورته مهال د ولسمشر دويم مرستيال سروردانش هم ويلي، چې د طالبانو پر ضد او له جمهوريت څخه د دفاع لپاره پراخ ملي مقاومت د رامنځته کېدو په حال کې دی. هغه زياته کړې: «د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو ترڅنګ پراخ ولسي پاڅونوال او پراخ ملي مقاومت د دولت تر حاکميت لاندې چوکاټ کې د جمهوريت د دفاع او دښمنانو د ځپلو لپاره د رامنځته کېدو په حال کې دی.»

يو شمېر پخوانيو جهادي او سياسي مشرانو هم په افغانستان کې د طالبانو پر ضد د خپلو کسانو د منظم کولو خبر ورکړی دی.

خو يو شمېر پوځي شنونکي او د بشري حقونو مدافع بنسټونه پر نامسوولو کسانو د وسلو وېش ګواښوونکی بولي او خبرداری ورکوي، چې که حکومت په دې برخه کې له پوره دقت څخه کار وانه واخلي، افغانستان به د تېر په څېر يو ځل بيا د واک پر جزيرو بدل شي. دوی دغه راز وايي چې افغانان په تېر کې هم له نامسوولو وسله والو او ملېشو بدې خاطرې لري او حکومت دې په لوی لاس هېواد د يو بل ناورين پر لور نه بيايي.

د پوځي چارو کارپوه جنرال عتيق الله امرخېل وايي: «دغه کار ډېر خطر ناک دی... دا روښانه ده چې دوی دولت نشي نيولی او د افغانستان په داخل کې به قومي، ژبني او مذهبي مسائل زيات شي.»

د افغانستان د بشري حقونو سازمان مشر لعل ګل لعل هم وايي، چې نامسوول وسله وال په تېرو څو لسيزو کې پر ګڼو بشري سرغړونو او جرمونو تورن دي، خو که دولت بيا هم پر دغو کسانو وسلې وېشي، د راتلونکو هر ډول ناوړه پايلو مسووليت به د حکومت پر غاړه وي. نوموړی زياتوي: « دوی پر ګڼو بشري سرغړونو تورن دي، پر دوی بايد عدالت پلی شي، د حکومت له لوري د وسلو پر ورکړې به دوی نور هم پياوړي شي او ډېر بشري حقونه به نقض کړي، دا چاره د اندېښنې وړ ده».

ملي دفاع وزارت داسې مهال پر خلکو د وسلو د وېش خبره کوي، چې په دې وروستيو کې د نامسوولو وسله والو فعاليتونو ډېرېدو خلک اندېښمن کړي او وايي چې دغه کسان ترې په زور باج اخلي او له دوی سره ناوړه چلند کوي.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرېنکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

دا کتاب د پېښو او حقایقو راپور نه دی، بلکې هغه شخصي تجربې دي چې میلیونونه زندانیان ورسره مخ شوي دي. په دې کتاب کې د پنډغالي (د الماني نازیانو د زندان) هغه کیسې دي چې له هغه ځایه یو ژوندی ژغورل شوی کس یې درته کوي. په کیسه کې داسې لویې پېښې نه شته چې انسان دې یې په اسانۍ ونه مني، بلکې وړو وړو دردونو ته اشاره کوي او هغه څېړي. په بله وینا، کتاب به دا پوښتنه ځواب کړي چې «د هر عادي بندي په ذهن کې د پنډغالي ورځنۍ ژوند څنگه منعکس شوی دی.»

دلته راغلې زیاتره پېښې په لویو او مشهورو پنډغالو کې نه دي شوې، بلکې په هغو وړو پنډغالو کې شوې چې تر ټولو ډېر خلک پکې سوځول شوي دي. دا د مشهورو اتلانو او شهیدانو د ژوند کیسه نه ده او نه د کاپوانو او مشهورو زندانیانو پر ژوند راڅرخي. دا د زورورو خلکو د زور کیسه نه ده، بلکې د هغو نوم ورکو پوځیانو د قربانیو او اعدامونو کیسه ده چې نومونه یې په هېڅ لېست کې نه شته. دا د هغو عادي زندانیانو کیسه ده چې په لستوڼو به یې ځانگړې نښه وه او کاپوگانو به ترې ډېره کرکه کوله. دغو عادي زندانیانو به یا نیمه خېټه ډوډۍ لرله یا به یې بېخي نه درلوده، خو کاپوان به تل ماړه وو او که رښتیا درته ووایم، زیاتره کاپوان په دې زندان کې تر خپلو کورونو ډېر ماړه وو. زیاتره کاپوانو به له زندانیانو سره د زندان تر ساتونکو او چارواکو تریخ چلن کاوه او تر هغوی (SS ) به یې ډېر په بې رحمۍ وهل او ټکول. دغه کاپوان له همدې زندانیانو ټاکل کېدل، د دوی شخصیت او کرکټر به هغه چلن ښوده، د کوم چلن تمه به چې ترې (SS) درلوده او که د هغوی له خوښې او تمې به یې لږه سرغړونه وکړه، دستي به له دندو گوښه کېدل. کاپوگانو به ډېر زر د (SS) د غړو او د پنډغالي د زندانیانو خوی بوی خپل کړ. په دې خاطر د دوی په اړه هم د ارواپوهنې د اصولو پر اساس قضاوت کولای شو.

له زندانونو بهر خلکو به د زندانیانو په اړه سم تصور نه درلود، ځکه هغوی به د زړه سوي او ترحم د عواطفو تر اغېز لاندې وو. دوی پر هغې مبارزې لږ خبرېدل چې د زندانیانو ترمنځ به د ژوندي پاتې کېدو لپاره کېده. دا سخته هڅه به هره ورځ د یوې مړۍ ډوډۍ تر څنگ د خپل ځان او ښه ملگري د ژوندي ساتلو لپاره وه.

راځئ د هغه موټر کیسه درته وکړم چې رسماً له یوه پنډغالي بل ته د زندانیانو د لېږد لپاره ټاکل شوی و؛ خو په اړه به یې همدا فکر کېده چې د دې موټر وروستۍ تمځای به گازي تنور وي. چې ناروغ، ضعیف او له کاره لوېدلي بندیان به هره ورځ مرکزي پنډغالي ته لېږل کېدل، هلته به گازخونې او د انسانانو د سېځلو تنورونه وو. هغه پنډغالي ته د بندیانو د ټاکنې پروسه به د زندانیانو ترمنځ د کس پر کس او ډلې پر ډلې د جنگ د پیل نښه وه. تر ټولو لویه هڅه به دا وه چې د زندانیانو له لېسته خپل یا د خپل ملگري نوم پاک کړي او پر ځای یې د بل چا نوم ولیکي. یوه موټر به څو کسان وړل او په ټولو زندانیانو به شمېرې وهل شوې وې، نو دا پکې مهمه نه وه چې په موټر کې څوک بارېږي، یوازې شمېر به یې پوره کاوه. پنډغالي ته په ننوتو به (یا به ښایي دا طریقه یوازې په اشوتز کمپ کې وه)، له زنداني ټول اسناد او نور وسایل واخیستل شول. په دې وخت کې به نو هر زنداني دا فرصت درلود چې ځان ته یو تخیلي نوم او مسلک وټاکي او د ځینو دلایلو له مخې به زندانیانو همداسې کول. د چارواکو به یوازې د بندیانو له شمېرو سره کار و. دا شمېرې به یې زیاتره وخت د دوی پر پوټکي خالکوبي کولې، یا به یې د دوی په پرتوگ، پتلون یا کورتۍ پورې گنډلې. هر زندان‌ساتونکي به چې بندي ته کومه سزا ورکوله، یوازې به یې د سترگو لاندې د هغه شمېرې ته کتل (اوف چې موږ له دې څنگزنو کتو څومره وېرېدو)، نور یې د نوم د پوښتنې حاجت نه و.

**دوام لري...**

# میرویس خان نیکه

◀ **اکسوس**

د شپاړسمي زېږدیز پېړۍ له پیله تر نږدې دوو نیمو پېړیو پورې زموږ هېواد د نن په څېر د لرې او نږدې لویو ځواکونو د خونړیو سیالیو او نامردانه تاړاکونو پر ډگر بدل و، هېواد عملاً په څو برخو وېشل شوی و، پر هره برخه پردي او د هغوی لاسپوڅي او اردلیان واکمن وو، کټ مټ د نن په څېر عام ولس اړ و چې د پردیو او د هغو د ځیره خورو د خرمستیو او وحشتونو درنه بیه ادا کړي.

شمال له میمنې تر بدخشانه، د چنگیز له نبېرې د را ولاړ شوي محمدخان شیباني او وروسته له امو تر پورې غاړې د نورو یرغلگرو تر یرغل لاندې و، له بدخشان تر بلخ او ان کندهاره د بابر د اولادې د واکمنۍ او لښکر کشیو او لوټماریو بازار تود و، له هرات تر کندهاره د ایران د صفوي ټولواکۍ د حاکمیت بیرغ رپېده.

په دې اوږده موده کې زموږ هېواد د همدې ځواکونو د سیالیو او جگړو شاهد و چې اصلي قرباني یې د وروستیو څلورو لسیزو په څېر زموږ ولس ورکوله.

په ولس کې د پردیو پر خلاف د مبارزې او له هېواده د دفاع روحیه پیاوړې وه، ډېر مبارزین را پورته شول، روښاني غورځنگ پیل شو او ستر روحاني شخصیت پیر روښان د پښتونخواه د ازادۍ او سرلوړۍ لپاره د سر، مال او کورنۍ تر قربانۍ پورې ثابت پاتې شو، زامنو یې د پلار اوچت کړی غږ ژوندی وساته، خو د پردیو اردلیانو هغوی پرېنښودل چې دغه ستر ارمان یې پوره شي، خوشال بابا، ایمل خان او نور مبارزین را اوچت شول، هغوی د پردیو تر سیورې لاندې ژوند بې ننگي بله، خو د لستوڼي مارانو او د پردیو سترو ناتارونو دغه غورځنگونه په نیمه لاره کې ناکام کړل، دغو یادو درنو مبارزینو د ولس د یووالي او خپلواکۍ ارمانونه گورته ور سره یووړل.

ستر مبارز خوشال بابا په یوه بیت کې خپله نهیلي او د هغو اصلي لامل داسې بیانوي:

اتفـاق په پـښتانه کـې پیدا نه شو
که نه ما به د مغل گرېوان پـاره کـړ

تر دې چې له دوو پېړیو تورتم وروسته په لوی کندهار کې د نازو انا په غېږه کې میرویس خان را پورته شو. میرویس خان د صفوي ټولواکۍ پر خلاف مبارزه پیل کړه، خو د خپلو اسلافو د مبارزې د لوړو او ژورو له دقیقې مطالعې وروسته یې داسې گامونه واخیستل چې د تورې او تدبیر انډول پکې ساتل شوی و، د خپل صف او ملگریو په انتخاب کې یې مؤمنانه فراصت، له ولس سره رښتینی خلوص او له شخصي هوسونو نه پاک ژوند، هغه ته په ولس کې د سپېڅلي مشرتابه مقام ورپه برخه کړ.

د پردو اردلیان په ولس کې پخپله سپک او بې اعتباره شول. د میرویس خان غږ د ژغورنې او خلاصون نغمه شو، هرگام یې د رڼا په لور و، هر ملگری یې د هېواد د غیرت شمله او د عزت تاج شو. بالاخره زموږ د ولس ژوند چې د تندر نیولي لمر په څېر سپېره له رنگ، خوند او وقاره تش و، بېرته له تیارو او بدرنگیو راووت.

دغه تاریخي ناول زموږ د هېواد د همدغو دوونیمو پېړیو د ژوند یو تصویر دی، د ډېلي او اصفهان په دربارونو کې زموږ د ولس پر خلاف څه ډول دسیسې جوړېدې، د دغو دربارونو اخلاقي او عقیدوي وضعیت پر کوم برید ولاړ و، دې ټولواکیو پوځونو زموږ په هېواد کې کوم وحشتونه تر سره کړل....

بالاخره ملي اتل میرویس خان نیکه او صادقو ملگریو یې په کوم تدبیر له هېواده د پردیو شوم سیورې لرې کړ او افغانستان بېرته د هویت او خپلواک ژوند څښتن شو.

د میرویس خانه د مبارزې انگېزه، له ولس سره د هغه خلوص، مېړانه، تدبیر او د دښمن دقیق پېژندل او له وخت سره سم پر ځای اقدام هغه څه وو چې میرویس نیکه د وخت ټولو طلسمونو ته د پای ټکی ږدي. تاسې کولی شی دا هرڅه په دغه تاریخي ناول کې په مفصل ډول ولولئ.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال/ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| 1 | میرویس خان نیکه (تاریخي ناول) | محمد زبیر شفیقي | ۲۵۰؋ |
| 2 | سیاست پوهنه | فرهاد داوري | ۳۰۰؋ |
| 3 | ملي دریځ | حبیب الله رفیع | ۸۰؋ |
| 4 | برمودا، مثلث او دجال | هاصم عمر/عمران لمر | ۲۰۰؋ |
| 5 | په اسلام کې د فقر درملنه | علامه یوسف قرضاوي | ۱۸۰؋ |
| 6 | نوی الحاد په رنگینه بڼه | مراد یوسفي/عزیزالله شهباز | ۲۳۰؋ |
| 7 | کوه نور | ویلیم ډالر ېمپلانیتا انند/طاهر صابزاده | ۲۰۰؋ |
| 8 | پښتانه څوک دي؟ | دوست شینواری | ۷۰؋ |
| 9 | اقیانوسیه جلد سوم | احسان الله ارینزی/واکمن احمد شاکر | ۲۰۰؋ |
| 10 | خاستگاه | دن براون/فریبا جعفری نمینی | ۴۰۰؋ |
| 11 | نیم کیلو باش ولی عاشق باش! | سعیدگل محمدی | ۱۶۰؋ |
| 12 | تنها نکته ای که لازم است بدانید | مارکوس باکینگهام/گیتی شهیدی | ۲۳۰؋ |
| 13 | قدرت فیض | جوئل اوستین/فریبا جعفری نمینی | ۲۶۰؋ |
| 14 | مشاوره خصوصی با ربارادی آنجلیس | با ربارادی آنجلیس/هادی ابراهیمی | ۲۸۰؋ |
| 15 | پیش بینی آینده | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۸۰؋ |
| 16 | آینده خود را بسازید | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۳۰؋ |
| 17 | مدیریت احساسات | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 18 | خودت را بشناس | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 19 | پرسش های کوانتومی | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 20 | قدرت ایمان | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 21 | نیروی باورها را در یابید | آنتونی رابینز/مجید پزشکی | ۱۵۰؋ |
| 22 | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۲۰۰؋ |
| 23 | مردم دولت ها و هراس | باری بوزان | ۳۰۰؋ |
| 24 | د مچی ځاله | سعدالدین شپون | ۱۷۰؋ |
| 25 | د زړو هیندارو کور | اسدالله غضنفر | ۴۰۰؋ |
| 26 | د اجمل خټک کلیات | ایازالله ترکزی | ۳۵۰؋ |
| 27 | سرطان درملنه | ماکس گرسون / اسماعیل اشنا | ۳۲۰؋ |
| 28 | دواخانه | علی وارسته | ۴۵۰؋ |
| 29 | درملتون | علی وارسته / محمد نواب خوښ | ۴۰۰؋ |
| 30 | ادویه شناسی | علی وارسته | ۴۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹،۳۰ |
| € | ۹٤،۱۰ |
| Rp. | ٤۹۵ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱،۷۰ |
| £ | ۱۰۸ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# په ژوند کې د بریالیتوب لارې چارې

ژباړه: احسان الله کریمي

بریالیتوب داسې شی نه دی، چې یوه ورځ کې پیدا شي او ورته ورسیږی. بریالي کسان په یوه ورځ بریا ته نه دي رسېدلي، هغوی د دې لپاره کلونه کلونه زحمت ایستلی. موږ په دې مقاله کې د بریالیتوب ۱۵ هغو رازونو ته اشاره کړې ده، چې پر مټ یې کولای شو د ژوند په هره برخه کې بریا لاسته راوړو. یوازې په دې رازونو باور او عمل وکړئ.

**لومړی راز**

هېڅوک په ژوند کې دومره قوي نه دي چې ستاسې لاس ونیسي او ستاسې د بریا لامل شي، که د نورو ژوند ته وګورئ، وبه وینئ چې هغوی هم له ډېرو ستونزو سره مخ دي او کله کله خپل ځان بیخي کمزوری ښیي. نو په کوم دلیل له نورو کسانو د لاسنوي تمه کوئ، په داسې حال کې چې هغوی خپلې ستونزې نشي حل کولای.

**دویم راز**

هیڅ انسان پوره نه دی. هر انسان ښېګڼې او بدګڼې لري. که تاسې غواړئ چې په هره برخه کې استاد واوسئ او له هر پلوه پوره وئ؛ دا هېڅ امکان نه لري .

هیڅ انسان پوره نه دی، خو هر انسان له ښو هم ښه پرېکړه کولای شي. خپلې وړې وړې تېروتنې په ښه کړئ او د سمون لپاره یې همدا اوس لاس پکار شئ. بریالیتوب له همدې ځایه پیلیږي.

**درییم راز**

تاسې نشئ کولای حالاتو ته په مکمل ډول تغییر ورکړئ، نو څنګه چې شرایط دي په هماغه راضي واوسئ، یوازې په دې باندې باور ولرئ چې په اوسنیو حالاتو کې د بریالیتوب لارې چارې کومې دي.

هر انسان په ژوند کې ډېرې ستونزې لري، عجیبه ده هغه خلک چې له ستونزو سره مخ دي، وایي کاشکي زه فلانی وی، اوس به مې ښه خوشحاله ژوند درلود، دا خبرې هسې ګپ دی. د دې فکرونو پر ځای داسې حللارې ولټوئ چې پر مټ یې خپل ژوند جوړ کړئ، دا فکرونه مو پرته له دې چې وخت مو ضایع کړي، نور کومه خاص ګټه نه درته کوي.

**څلورم راز**

خوشالۍ او بریا ته د رسېدو لپاره په نور حساب مه کوئ، لکه څنګه چې مو مخکې وویل چې هرڅوک خپلې ستونزې لري او هر څوک په خپل غم اخته دي، خپله نشي کولای چې ستونزې یې حل کړي، نو د دې لپاره کوښښ وکړئ چې ټوله هڅه مو باید دا وي چې خپلې ستونزې پخپله حل کړئ او نورو ته له لاسنیوي ځان وساتئ او برعکس داسې څه تر سره کړئ، چې نور خلک ستاسو لاره وڅاري. هدف مې دا دی چې دومره قوي شئ چې له خدای پرته د نورو مرستې ته اړتیا ونه لرئ.

**پنځم راز**

کله چې د یو کار کولو لپاره پلان جوړوئ، له ځان څخه پوښتنه وکړئ، کوم کار تر سره کړم چې د ټولو په ګټه وي، یوازې خپلې ګټې په پام کې مه نیسئ.

**شپږم راز**

ښایي د انسان د زړه تر ټولو ژوره لېوالتیا دا وي، چې له ځان څخه د مهم څیز لپاره ژوند وکړي. له موږ څخه هر یو دې ته لېواله یو، چې مهم واوسو، یو توپیر را منځته کړو، پوه شو چې نړۍ تر یوه بریده غوره ده، ځکه چې موږ د ځمکې په دې خاورینه کره کې له چا سره معاشرت کوو او په هغه باندې مینېږو، نو د دې غوښتنې د پوره کولو لپاره باید پرلهپسې هڅې وکړو.

**اووم راز**

انسان یو ټولنیز موجود دی او معلومه خبره ده، چې د ژوند د دوام لپاره له نورو سره اړیکو ته اړتیا لري. که دا خبره نه منئ، لږ فکر وکړئ چې د ځمکې کره، ځمکه او ټول موجودات ستا په نوم شي، خو یوازې تاسو په دې ځای کې ژوند کوئ او نور څوک درسره نشته، تر ښه فکر کولو وروسته به دې پایلې ته ورسېږئ چې دا هیڅ مانا نه لري او سمدلاسه به د وضعیت د بدلون په لټه کې شئ. مانا دا چې له نورو پرته او یوازې ژوند کومه مانا نه لري.

**اتم راز**

په ژوند کې د بریا یو راز دا دی، چې موخې مو ولیکئ، تر ټولو لومړی کار چې سهار یې تر سره کړئ، دا دی چې ورځ مو د څه لپاره ځانګړې کړې ده. ذهن مو داسې جوړ کړئ، چې سهار له خوبه د راپاڅېدو له وخته بیا تر ماښامه په قوي روحیه د هغه لپاره مبارزه وکړئ. اوس څنګه کولای شئ چې دا ډول شرایط د خپل ځان لپاره رامنځته کړئ؟ هره ورځ سهار د خپلو موخو په لیکلو سره دا کار کولی شئ. کله مو چې دا کار وکړ، نو د خپلې مهمې موخې شاوخوا کرښه را تاو کړئ؛ هغه موخه چې په اوږدمهال کې به ستاسو په ژوند زیات اغېز ولري.

اوس له خپله ځانه وپوښتئ: نن کوم کارونه تر سره کولای شم، چې هر څه ته بدلون ورکړي او ما خپلې دې موخې ته نږدې کړي؟

**نهم راز**

په یوه کار کې له یو چا څخه وېره او د یو کار په تر سره کولو کې له دې څخه وېره چې ایا دې کار کې به بریالی شم کنه، تل له ذهنه وباسئ او مثبت فکر ولرئ. په پیل کې به مو ذهن ته ډول ډول شیطاني وسوسې درشي، خو دا هر څه حقیقت نه لري، څه چې مو په کوم نیت پیل کړي دوام ورکړئ او پرته له کوم فشار او وېرې څخه مخته ولاړ شئ.

**لسم راز**

وایي نیمایي ویښتان مو د هغه څه په اړه اندېښنې سپینوي، چې په ژوند کې مو هیڅ نه پېښېږي. په لومړۍ شماره کې مو وویل چې ذهن ته به مو ډول ډول وسوسې او منفي خبرې راځي، خو تاسو مثبت فکر وکړئ او هغه په پوره مانا درک کړئ. تل دا ووایاست چې "زه یې کولی شم" او په خپلې کوچنۍ بریا هم ډېره خوښي څرګنده کړئ او ځان وستایئ.

**یوولسم راز**

لومړنۍ ماتې مو د دویم ځل لپاره فرصت وګڼئ، که په لومړي ځل پاتې راغلی، نو مه ناهیلي کیږئ، ځکه لومړنۍ ماتې د دویم ځلي پیل لپاره ښه فرصت دی، دا ځل یې ښه په هوښیارۍ پیل کړئ، د لومړۍ ماتې تر ټولو غوره ټکی دا دی چې دا ځل موږ تر لومړي ځل په خلاصو سترګو پرېکړه کوو او لورې ټاکو. له ماتې وروسته باید موږ تیار اوسو او د هغو درسونو له مخې حرکت وکړو، چې له ماتې څخه مو زده کړي دي.

**دوولسم راز**

ډېر کسان فکر کوي په هغه لار چې مخکې پرې روان دي، د بریا لپاره یوازینۍ هغه ده او پرته له دې لارې نه شي کولای خپلو هدفونو ته ځان ورسوي. مګر بریالي خلک تر ډېره دا ډول نه دي او دوی نړۍ په هماغه ښه مني څنګه چې ده. دوی ټول هغه بدلونونه چې مخې ته یې راځي، قبلوي او له ټولو شته امکاناتو د خپلې بریا لپاره استفاده کوي. دا هم سمه ده چې بدلون باید په دوامداره او هر اړخیزه توګه نه وي، خو مه هیروئ چې بدلون او انعطاف د بریا کلي ده.

**دیارلسم راز**

اړینه نه ده چې نورو ته ثابته کړی چې څنګه کس یاستی، خلک حق لري چې څنګه یې زړه وي هغسې فکر وکړي؛ خو تاسې باید هغسې ونه اوسئ، څنګه چې خلک فکر کوي.

ستاسو تر غوږو به د خلکو ډول ډول خبرې درسیږي، خو تاسو چې کوم هدف ټاکلی، تر هغه ځان ورسوئ او بریالي شئ.

**څوارلسم راز**

په یاد ولرئ چې ستاسو هدف ژوند کول دي او باید غوره ژوند وکړئ، هدف ته د رسېدو لپاره باید دومره سختې هم په ځان را نه ولئ چې ژوند درنه هېر شي. هر وخت خوشحالۍ ته د رسېدو لپاره دلیل پیدا کړئ او وګورئ چې په هغه وخت کې له ژوند څخه ډېر خوند اخلئ.

# د امریکا او ایران تازه نانډرۍ؛

## سپینه مانۍ: جوبایډن د ایران له نوي مشرتابه سره د لیدنې کوم پروګرام نه لري

سپینه مانۍ وایي چې د امریکا ولسمشر جوبایډن د ایران له نوي مشرتابه سره د لیدنې کوم پروګرام نه لري.

د سپینې مانۍ ویاندې جین ساکي د ایران د نوي منتخب جمهور رییس ابراهیم رییسي د خبرو په غبرګون کې ویلي چې د دواړو هېوادونو د مشرتابه ترمنځ د لیدنې په اړه هېڅ پلان نشته. دا په داسې حال کې ده چې د ایران نوي منتخب ولسمشر ابراهیم رییسي وړمه ورځ وویل، نه غواړي چې د امریکا له ولسمشر سره دې مخامخ لیدنه وکړي.

ساکي زیاته کړې، د امریکا د جمهور رییس او دولت له نظره د اټومي چارو په اړه وروستۍ پرېکړه د ایران د رهبر په لاس کې ده، نو ځکه هم ولسمشر بایډن د ایران له نویو مشرانو سره د لیدنې کوم پروګرام نه لري. د ایران نوي منتخب جمهور رییس ابراهیم رییسي وړمه ورځ د خپل لومړي مطبوعاتي کنفرانس پرمهال وویل، چې د اټومي خبرو ملاتړ کوي، خو هغه خبرې چې د ایران ملي ګټې پکې تضمین وي. نوموړي دغه راز زیاته کړه، که له ایرانه ټول بندیزونه لېرې هم شي، بیا هم دی له بایډن سره نه ګوري. د ایران نوی ولسمشر ابراهیم رییسي د یاد هېواد د قضایه قوې مشر پاتې شوی او د ایران ستر مذهبي مشر ایت الله علي خامنهاي ته چې د دغه هېواد تر ټولو مهمې پرېکړې یې په لاس کې دي، له نږدې او باوري کسانو څخه دی.

دا په داسې حال کې ده چې په ویانا کې د ایران او د اټومي تړون لاسلیکوونکو هېوادونو تر منځ د ۲۰۱۵ میلادي کال د اټومي تړون د احیا پر سر شپږم دور خبرې دوې ورځې وړاندې پای ته رسېدلي او مرکچیانو ویلي د هوکړې د بشپړولو په لټه کې دي.

د یادونې ده چې د امریکا مخکني ولسمشر ډونالډ ټرمپ امریکا په یو اړخیزه توګه له ایران سره له شوي تړونه و ایستله او پر دغه هېواد یې بېرته بندیزونه ولګول. ایران هم د امریکا د دغه اقدام په غبرګون د اټومي پروګرام کارونه چټک کړل. خو د ولسمشر بایډن پر راتګ سره نوموړي وویل، که ایران خپلې ژمنې عملي کړي، دی چمتو دی چې له یاد هېواد سره د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته بېرته امریکا ستنه کړي.

# عمران خان: طالبان پر ټول افغانستان نه شي واکمنېدای، د حکومت په چوکاټ کې دې مدغم شي

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان یو ځل ویلي چې طالبان پر ټول افغانستان ولکه نه شي ټینګولی.

نوموړي په نیویارک ټایمز او واشنګټن پوسټ کې په خپره کړې لیکنه کې ویلي، طالبان نه شي کولای چې پر ټول افغانستان کې برې خپل کړي، خو د دې ډلې د بریا لپاره اړینه ده چې دوی په یوه دولت کې راونغاړل شي.

د پاکستان لومړي وزیر زیاته کړې، هېواد یې چمتو دی چې له امریکا سره د افغانستان د سولې په پروسه کې همکاري وکړي، خو له دغه هېواده د بهرنیو عسکرو وتل به د جګړې د لا زیاتېدو مخه ونیسي.

د عمران خان په لیکنه کې راغلي: «طالبانو په وروستیو دوو میاشتو کې پر افغان ځواکونو خپل بریدونه زیات کړي، په ځانګړي ډول له هغې نېټې وروسته چې د امریکا جمهور رییس جوبایډن د سپټمبر تر ۱۱مې له افغانستانه د خپلو ټولو عسکرو د ایستلو اعلان وکړ.»

نوموړي له پوځي لارې د افغانستان د شخړې له حل سره مخالفت ښودلی او زیاتوي، که شخړه دوام وکړي، کېدای شي یوې بلې کورنۍ جګړې ته لار پرانیزي. خان ویلي، پاکستان په افغانستان کې هېڅ ډول لاسوهنې ته لېوال نه‌دی، خو چمتو دی چې د خلکو په خوښه له هر ډول جوړ شوي دولت سره همکاري وکړي.

خو افغان حکومت بیا د پاکستان له‌خوا په ټولو برخو کې د عملي ګامونو پورته کېدو ته په تمه دی. د جمهوري ریاست د اطلاعاتو او عامه اړیکو اداري مشر وحید عمر وایي: «دا چې جمهور رییس امریکا ته ځي او د پاکستان صدراعظم وار له مخه په واشنګټن پوسټ کې مقاله خپروي، دا په سیاسي لحاظ کېدای شي یو ګام وي، خو په عملي لحاظ د افغانستان خلک دې پایلې ته نه‌دي رسېدلي. دا څپه اوس هم پیل ده، که واضح‌یې ووایم په دې کې زموږ د ګاونډیانو په ځانګړي ډول د پاکستان ونډه روښانه ده. په سنګر کې هم، په اظهاراتو او سیاسي او نظامي فضا کې هم دا نقش روښانه دی.»

تر دې وړاندې هم ولسمشر غني له پاکستان او طالبانو غوښتي چې د یوه او بل ترمنځ د خپلو اړیکو په اړه وضاحت ورکړي. افغان حکومت پاکستان د طالبانو پر ملاتړ او دې ډلې ته د پټنځایونو پر ورکولو تورنوي، خو پاکستان او طالبان یې ردوي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ دویمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۳مه | ۷۳۸مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٤ | ۳٤ | ٤۰ | ۳٥ | ٤٤ | ۳٥ |
| ۱٥ | ۲۰ | ۲۳ | ۲٥ | ۲٤ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۱ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۵۸ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۶

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۸۹۱زره کسانو واوښت


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷۹ میلیونه او ٦۷۷ زره او ۷۰۱ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۸۹۱زره او ۵۸ کسان مړه شوي او له ۱٦۴ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۴۲۰ زرو ته رسېدلي او ٦۱۷ زره او ۴۸۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۰میلیونه او ۲ زره او ٦۹۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۷ میلیونه او ۹٦۹ زره او ۸۰٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۵۷ زره او ۷۹۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او۳۷۵ زره او ۵۹۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، بریټانیا، ارجنټاین، ایټالیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## پیونګ یانګ: له واشنګټن سره د ډیپلوماتیکو خبرو د بیا پیل احتمال نشته



د شمالي کوریا د مشر، کېم جونګ اون خور له واشنګټن سره د ډیپلوماتیکو خبرو د بیا پیلېدو احتمال رد کړی او ټینګار کوي چې د امریکا د متحده ایالاتونو د خبرو تمه دوی ډېر ناهیلي کوي.

کېم یو جونګ چې د یاد هېواد په واکمن ګوند کې جګپوړې غړې هم ده، دا څرګندونې یې وروسته له هغې کړې چې د امریکا د ملي امنیت سلاکار جک سولیوان د اونۍ په پیل کې ویلي وو چې د شمالي کوریا د مشر وروستۍ څرګندونې چې ویلي یې دي شمالي کوریا باید خبرو او مقابلې ته چمتو شي، په زړه پورې نښې دي. سولیوان د دوشنبې په ورځ هیله ښودلې وه چې شمالي کوریا د امریکا د خبرو وړاندیز ته مثبت ځواب ووايي، خو ده دا هم ووېل چې پر شمالي کوریا به د امریکا پر مشرۍ بندیزونه پر خپل حال وي. خو د شمالي کوریا د مشر خور په داسې حال کې د امریکایي چارواکو څرګندونو ته غبرګون ښودلی چې د شمالي کوریا لپاره د واشنګټن ځانګړی استازی له جنوبي کوریا کتنه کوي.

د یادونې ده چې د امریکا د مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د شمالي کوریا د مشر کیم جونګ اون ترمنځ مخامخ لیدنه هم وشوه، خو دواړه خواوې په خپلو کې هوکړې ته ونه رسېدې.

## وحید عمر: موج سقوط ولسوالی‌ها در یک ماه گذشته موقتی است و دوام نمی‌آورد



وحید عمر، مشاور ارشد و رئیس عمومی اداره ارتباطات عامه و استراتیژیک ریاست جمهوری، می‌گوید که موج سقوط ولسوالی‌ها در یک ماه گذشته موقتی است و دوام نمی‌آورد. به گفته او، این موج به هدف تخریش اذهان مردم به راه انداخته شده است.

عمر در یک نشست خبر در کابل خاطرنشان کرد که در یک ماه گذشته با اعلام خروج نیروهای بین‌المللی، موجی از ناامنی‌ها برای تخریش اذهان عامه به وجود آمد که این موج موقتی است و دوام ندارد. به باور او، گروه طالبان موجی را به راه انداخته‌اند تا مردم به این نتیجه برسند که با خروج نیروهای بین‌المللی کشور را تسخیر می‌کنند. او تصریح کرد که وضعیت به زودی تغییر می‌کند و حضور طالبان در هیچ ولسوالی‌ای دوام‌دار نیست.


وحید عمر با اشاره به سقوط ولسوالی‌ها در یک ماه گذشته گفت: «اراضی است؛ یک بار طالب گرفت، دوباره پس می گیریم.»

مشاور رئیس جمهور غنی تأکید کرد که مردم نباید از نظر روانی و روحی به این نتیجه برسند که گروه طالبان در کشور حاکم می‌شود. به گفته وحید عمر، گروه طالبان با یک جامعه متحرک روبه‌رو است و این گروه در جنگ با مردم افغانستان می‌بازد.

وی هم‌چنان افزود که طالبان با در اختیار گرفتن ولسوالی‌ها در سراسر کشور، ساختمان‌ها را به آتش کشیدند، مکتب‌ها را بستند و کلینیک‌ها را نیز آتش زدند.


## ژوند

## د نوکیا تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل



نوکیا کمپنۍ خپل نوی نوکیا سي۰۱ ځیرک موبایل چې د دغې کمپنۍ تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل دی، خرڅلاو ته وړاندې کړ. نوکیا سي۰۱ کې ۵٫۴۵ انچه اېچ ډي پلس ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه او اوکټا پروسېسر ورکړل شوی دی. دغه ځیرک موبایل یو ګېګابایټ رم او ۱٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري چې کاروونکي د میموري کارت په کارولو سره دغه وړتیا ۱۲۸ ګېګابایټ ته لوړولی شي. دغه ځیرک موبایل د انډرایډ ګو پروګرام برخه ده چې له همدې امله اکثره کاریالونه پکې ډېر لږ انټرنېټ مصرفوي او ورو انټرنېټ کې هم ښه کار کوي. نوکیا سي۰۱ کې د ګوتې نښې سېنسر نه دی ورکړل شوی، خو د څېرې پېژندلو سیستم لري. شاتنۍ او مخکینۍ برخه کې یوه یوه پنځه مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره لري، چې لږه رڼایي کې هم غوره تصویرونه اخلي. دغه ځیرک موبایل کې ۲۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې ده او بیه یې ٦۴۹۰ روبل ټاکل شوې ده.

## د وېښتانو د قوت لپاره کوم خواړه ګټور دي؟



غیر صحي او نامناسب خوراک د بدن ترڅنګ د وېښتو لپاره هم زیانمن وي او وده یې دروي. د خوراکي توکو کارپوهانو شپږ داسې توکي په ګوته کړي چې استعمال یې وېښتانو ته وده ورکوي. د بول نیوز د لیکنې له مخې ویل کېږي چې دغه شپږ توکي هګۍ، پالک، وچه مېوه، ګوره، ریحان او سپیغول دي. د خوراکي توکو کارپوهان وايي چې هګۍ په خپل جوړښت کې د وېښتانو د ودې لپاره اړین ویټامینونه لري او پالک هم یو له هغو خوراکي توکو څخه دی، چې ډېر ویټامینونه او غذايي توکي لري. د پالکو غذايي توکي د مجموعي روغتیا ترڅنګ د وېښتانو د ودې لپاره هم اغېزمن تمامېږي. پالک د فولیټ، اوسپنې، ویټامین اې او ویټامین سي په درلودلو د وېښتانو د ودې لپاره ډېر اړین وي. لکه څنګه چې د خوراکي توکو کارپوهان وايي، که چېرته دغه خوراکي توکي په خپلو ورځنیو خوړو کې استعمال شي، نو سره له دې چې ډېرې روغتیايي ګټې لري، ترڅنګ یې وېښته ځواکمنوي، ګڼوي یې او وده ورکوي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank